د مقالې ليکونکې: دبريتانيا سنډې ابزرور .
سرچينه او دخبريدو نيټه : کمان ډريم ۲۰۱۲-۱-۲۹
ژباړونکې : پوهندوی دوکتور سيدحسام «مل».
------------------------------------------------------------

# مونږ اوس د نړيوال کيدوبيه ليدلي شو

we can now see the true cost of globalization

## دنړۍ دټولو خلکو پام اوس دی ته اغوښتی چي په اوسنی نړيوال اقتصادی سيستم کی ځني ډير ژور نقصان او غلطی موجود دي

له دی نه کله چې کارل مارکس دنړۍ کارګرانو ته بلنه ورکړه چي سره يو موټی شي داسي را معلوميږي چي هغه پخپل ذهن کي لري بريښنی چي د آيفون (په شکل کی توضيح شوی دی ) موضوع تحريم کړی اوسي .مګر ددي شانته مبارزي وړانديزونه د امريکي په متحده ايالاتوکې پرځني ممکنه ناوړي ګټه اخيستو باندي رڼا اچونه دي کوم چي غټ توليد کونکي شرکتونه لکه د اپل (apple)دسترلوړتکنالوژيکی موادواودکاليودتوليد په جريان کي هغه څه چي ترسره کوی اوپخپل دغه ناوړی اعمالوسره د نړۍ خلک دي ته مجبوروی چی يو ځل بيا له سره پر هغه څه چي د توليدی تونل په هغه بله خواکوم چي دفش فش دآوازونواودنعروسره په وړوپلورنځيوکی اوريدل کيږي پرهغه باندی کتنه وکړی اوپخپلونيو کو سره دغه د سرمايي خاوندان وچيچي . ښاغلی اپل ټام کوک (apple tim cook) د سترتکنالوژيکی موادو دتوليد رييس پخپل يوه وينا کی خپل رهبری ستا ف ته وويل چی مونږدخپل نړيوال ځنځيری زيرمواو دکارخانجاتوپرهريوکارګراوکارکونکی باندی له مواظبته ډک پاملرنه لرو، زمونږ کارخانی اودهغه مسولين د کارخانو نمری (scores) ترخپل نظر لاندی نيسي اوله وروستيو سترګوليد څخه داسي راڅرګنديږي چی خلکو اوس له دی حقيقت څخه سترګي نشي پټولی اوهغه داچی ټول خلک اوس د پانګوالي دخيټی ترپنډ سيوری لاندی پروت دي.
مخکی له تصادم څخه د نړيوال(globalization) نيوکي کونکي اومظاهره چيانو(په پراګ کی هغه وخت چي غربی رهبرانودپراګ په هغه غونډه کی چي

سره راټول شوی وه اویوبل ته د نړیوال تجارت دښیګڼی اود یو ارمانی هدف دترسره کیدو مبارکي ویل) دګوښه کیدواود تیت وپرک کولو په منظور اوښکي بهیدونکي ګاز او رابری مرمی په کار ویوړل شول .
لاکن کله چې په کال (۱۹۹۰) کی زیات آسیایی دولتونه اوحکومتونه یودبل پسي په مالی بحران او په ناداری اوافلاس ککړ شول نو هغوی ددی بحران دراوتلو په مقصد د نړیوال وجهی صندوق څخه د اضطراری پور په رانیول مجبورشول ، نوپه همدی وخت کی غربی رهبرانو اوحتی ځني کیڼ اړخو کړیو د پورتني بحران د رامینځته کید و د ملامتی پړي په عوض د دی چی پر ګلوبولایزیشن باندی واچوی نو هغه یی د اسیایی دولتونو پرکمزور اوضعیف اقتصادی مدیریت اورهبری باندی واچول او داسی یی توضیح کړل چی دغه را پیداشوی بحران ټول د نوموړی دولتونو دضعیف اقتصادی مدیریت پایلي دي
حتی کله چی دامریکی دکورونویا دمسکن د مارکیټ د مالي بحران موجونه له امریکي څخه په (۲۰۰۷) کی وباندی ته سرایت وکړاویا خپورشواوپه جانبی بڼی سره دنړی په ټولو هیوادونو کي دهغه تخریبی اغیزی ترسترګوشو هغسی یوبحران وه چی د (۱۹۳۰) کال د نړی دمالی بحران څخه راهیسی نه وه پیښه شوی اواکثراً دغه بحران داسی ګڼل چي سرمایه داری دبانکونو د قوانینو د لا ښه تنظیم کیدو اود سمون د پا ره په قصدی بڼی سره دی بحران ته لمن وهل شوی ترڅو چي د پا نګوالی د سیستم د ښه انکشاف اوپرمختګ لاری اواره کړی اود نوموړی سیستم ښیګڼی بلکل تثبیت کړی .
د یا د ونی وړ مطلب دادي چی دلته دوه شیان دي کوم چي دنړۍ د رهبرانو هڅه اواند له هغه خط اولیک څخه دباندي وویست کوم چي هغوی غواړي چي په معمول بڼی سره بیرته پخپل تجارتي کړه وړو باندی واوړي : لمړی داچي په ډیرو هیوادونو کي څلور کاله مخکي دننی بحران له پیل څخه په میلونونو خلکو دښه اقتصاد دبیا رغوني په انتظار کی وه ولی نه داچي دغه اقتصاد بهبودی ترلاسه نکړ ل بلکه لاپسی بیمار اوپه راز راز ناروغیو باندی ککړشو، دبیکاری کچه لاپسي لوړشو یواځی اویواځی هغه ډیر لږه کی(اقلیت) پانګوالانو ددی ناورین څخه په امان کي پاتي شول .
دوم دلیل دادي چي تجارتی کړه وړه یا فعالیتونه لا تراوسه په معمولی اوهمغاړیتوب بڼی سره دودی په حال کي نه لیدل کیږي او د هغو قدرتمندانو دنارضایتی موجبات یی برابر کړی چی دقدرت دکړکیو له شا څخه ددی بحران

په تماشا کی دي ، له قهرجن هسپانوی( ۵۰٪ ) ځوانانو څخه کوم چی له دندو څخه ګوښه شوی بیا دلندن اودنیویارک تراشغا ل شوی جنبش پوری اوپه همدی شان د نړی په ډ یرو نوروښارونو کي دبیکاری دکچي لوړید نه او بیا د چین د ګواندون (Guangdong) د ساحي د کلیوالواعتصاب دحکومت پرضد کوم چی دهغوځمکی ترخپل قبضی لاندی نیولی بیا تردی پوری چي په زرونو زرونو ښاریانو ټول له یو سره ددی اقتصادی سیستم په وړاندی خپل نارضایتی اوقهرښیي اودا هغه بیلګی دی چی د دغه سیستم پر چلند اومضمون باندی خلکو دبطلان کرښی باسي او څرګندوی چی دغه سیستم نشی کولای چی د ناروغ سرمایه داری اقتصادی ناروغی درملنه وکړی اویا هغه له دغه موجوده بحران څخه وباسي .
ددغه نوی په دوران رسید لي ګروپ غوښتنی اومطا لبات غیرممکن بریښی چي په بشپړه توګه سره شکل اوصورت ونیسي اوداځکه چي دهغوي له هغه شورما شور اوګڼي ګونی څخه داسي راڅرګند شوچي په نوموړی اقتصادی (نړیوال ) سیستم کې څه غلطي اویا څه نقصان موجود دي اوهغه داچی پانګه او ثروت په ډیر ژوره بڼی سره دځو نخبګانو په لاس کې دي حال داچي په میلونونو نور خلک د بیکاری اود غربت په لومه کی بند پاتي دي .
په هغه کلنی څیړنیز جشنواره کی کوم چی تیره اونی په داوس (Davos) کي دځوانانو دبی روزګاری او پرنابرابری باندی غونډه نیول شوی وه نو دغونډی په پاي کي دی نتیجي ته سره ورسیدل چي دنړیوال اقتصادی قدرت دلالان په ډاګه کړل چي په دغه روان نړیوال اقتصادی سیستم کي څه غلطی اونقصان موجود دی چي څوک ورڅخه انکار نشي کولای .
واقیعت اوڅرګند حقیقت خودادي چي دنوی لیبرالانواجماع سره دهغه اقتصادی «آزادي» دوعدی په سپارلو سره سره بیاهم د پوره ناکامی سره مخامخ شول ، که ددی رنګ آزادی په نظرکی نیولو سره هندوستان او چین ته پام واړو نو ویلی شوچی دشلو کلونو په موده کی په نوموړی هیوادونوکی په ملینونوانسانانو له ژور فقر اوتنګد ستی څخه ژوندی را وتلل او وژغورل شول ، لاکن دیاده مو باید ونه باسو چی په نوموړی هیوادونو اودنړی په نورو دپرمختګ په حال هیوادونو کی دنابرابری کچه دومره دهرم سرته رسید لی چی دشرم اودخجالتی څخه بل شي نه ګڼل کیږی اوداپخپیله دهمدی سیستم سوغات دی چی په هیڅ بڼی سره بلامنازعه نشي پا تی کید لي ځکه نابرابری خپله په ټولنه کي د فقر

اود ثروت یوه بیلګه دي .
دپا ملرني یوه بله مهم مطلب دادي چي په عین زمان کي دنړی په ډیرو بډا اوغنی اقتصاد لرونکي هیوادونو لکه بریتانیا کی لید ل کیږي چي دکارګرانو اجوره په متوسطه بڼی سره هومره ټیټ اوکم دي کوم چي هغوی خپل ځان نه یواځی چی د خپل ګاونډ یا نو سره په رقابت کي نشي پرتله کولای بلکه دهغو نوروکارګرانو سره هم نشي رقابت کولای چی دهغو څخه په زرونو میله لری پروت دي .
همدارنګه په عین وخت په غرب کې دغه سیستم یعنی ګلوبولایزیشن حتي پخپل ځانګړي شرایطو سره ونشو کړلای چي په وسطي بڼی سره د کارګرانو ژوند ته سمون ورکړي اوداځکه چی له یوي خواد د کارګرانو دخرید قدرت یا د مصرف کونکود تقاضا کچه را ټیټه کړل اودبلي خوا څخه اقتصادی پرمختګ ته تاوان ورسول یعنی چی اقتصادی وده یی لاپسي پُس کړل.معتبر او پانګوالی ډلی ټپلي کوم چی د دی سیستم لوی ګټونکی شمیرل کیږي له پنځوس کاله لازیات دلویومستهلیکونو څخه شمیرل کیږی مګر سره له هغه بیاهم خپل زیات پانګه اوسرمایه دسویس په بانکونو کي زیرمه کړي دي .
له یولړڅیړنواوعلمی تحقیقاتو څخه داسي راڅرګند شوي چی د نا برابری خولوازی (خمیازه) نه یواځی چي یوه سیاسی اویوه اخلاقی پوښتنه دی بلکه اصلاْیوه اقتصادی پوښتنه دي ،پوکڼی (پوقانی یا حباب ) اعتبارات اوکرید یتونه ددوه لسیزو د پاره په متحده ایالاتو او اروپا کی وشو کړلی چي په چم اوچلول سره دمستهلیکونوژوند سره مرستی وکړی یادهغودژونداعتباراتوته دملاتیر شي سره له هغه چی دهغوی یعنی د مستهلیکونو اجوره لا پسی خپل نزولی منحنی خواته را ټیټه کړل اما دپانګوالو دغه له چلوله ډک کړنه یواځی تریوی مودی پوری کوم چي پوراخیستونکي پری نه پوهیدل دوام وکړمګراوس له هغه څخه راپاتي میراث ملا ماتونکی پورونه دی چي پوروړي باید دډیروکلونو دپاره کار او زحمت وګالی ترڅو چي ددی ملا ماتونکي پورونه څخه خلاص شي .
نو په دی بنیا د دکا رګرنو له ډیر تریخ ژوند څخه په لری پرتو سیموکې داسی را څرګند یږي چي دهغوی یعنی د مصرف کونکي د مالي او دواقعی لګښتونو دارزش څخه پریکوني هغه څه دي کوم چي کارګرانو په هر ځای کي چي وي دغه مالي لاسته راوړنی د لاسه ورکوی اود هغه له سببه دهغوی په ژوند کی د نا وړي اغیزی زمینه برابریږي او دا پخپله له حقیقت څخه لری

ښکاری اویا داچې یوه ډیره غټه اشتباه به وی که چیری دهغه ځواب له دننه څخه شاته تګ اوراتګ فکر وشی حتی که چیری دسرحدونو یوه تړلي اقتصاد هم موجود اووسی ، پس نو باید چي دیوی اوږدی مودی د پاره داسی یو ناروا اوخالی سوال په مینځ کی ونه اوسی چی ایا نارسید لی اوخام ګلوبولایزیشن کولای شی اویا ددی توان لری چی هغه مخکینی سپارل شوی مزه داری وعدی ترسره کړی ؟
دهیواد په دننه کي دکوربه مالیا تو اود ګټی بد لون اوتغیرات ایا کولای شی چي دهغودپاره کوم چي دباندنی زیرمو،خصوصی کیدواودنړی دټول اقتصاد دلاسته راوړنو په خاطر په سیالی کی هرشی دلاسه ورکړی دی دهغو جبران خساره وشی اویاځني تعدیلاتی بهبودی دهغوپه دی سیالی کي ترسترګوشي؟ د اقتصادی پرمختګ اودهمکاریو سازمان (OECD) ددی دپاره چي د نا برابری کچه را ټیټه شي پرملکیتونود تقاعد پراسهامو اود مسکن دتادیاتو په سود باندی چی باید پانګوالو ته ورکړل شی داضافی مالي ورکونه وړاندیز کوی اوپه عین وخت پخپل وړاندیزکی زیاتوی چي پانګوالانوباید چي خپل پیسی له دی نه چي دهوتل د بام پرسر پکار واچوی باید چي په ډیر عاقلانه ډول سره په هغه ځای کي سرمایه ګذاری وکړي چي پوره لاسته راوړني ولری لکه د وارن بوفیت [(Warren Buffett) وارن بوفت ته دیو هوښیار اوماها کارپوه سرمایه دار لقب ورکړ شوی هغه یوامریکایی سرمایه دار اوتاجر دی چی په عین زمان کی ډیر خیرخواه او نجیب سړی هم دی ، هغه دبرکشایر دشرکت عامل مدیراودهغه شرکت یوله ډیرلوی شریکوانانوڅخه شمیرل کیږي دهغه اوسنی پانګه اوخالص سرمایه (۵۲) ملیارد دالراټکل شوی چی په کال (۲۰۰۸) کی د نړی د پانګوالو په قطار کی لمړی شخص وګڼل شو اوهغه دخپل پانګي (۸۳٪) ملیدایس بنیاد ته دهدیه په ډول ورکړل : مترجم ] د بیلونیرسرمایه ګذار په څیر هغه داسی وړاندیز کوی چی پرته د ډیرجذری اوراديکال برخورد څخه لکه د خپل په شان یی ټول لوی پانګوالان دی ته مجبور کړل شي چي هغسي مالیه باید ورکړی کوم چي دهغه سکرتر سره هم مرسته وشي.
په نړیوال مقیاس سره نه باید داوږدی مودی دپاره په نا روا بنی سره دخارجی منابع اوزیرمو دترلاسه کولو دپاره اویا بی له کوم ځنډه اوبی له کوم منازعی اوجګړی څخه دپانوګوالي کچه دنړي په سراسر کي په نامحدود بڼی سره هسی شرایط ځانته چمتوکړی چي خپل لمن هرڅنګه چي وغواړي وغوړوي .

مونږ باید دچینایی کارګرانو دهلي ځلي ښځه کوم چي دخپل ژوندانه د دښه سمون دپاره دبدلونو اودتغیر په لټه کی دي اوپه اوسني حالت کي غواړی چي خپل اجوره لوړ کړی اوخپل ژوند ښه سمبال کړي کوم چي دا پخپله په لندن یا نیویارک کی داییود (په انترنیټ کی د موزیک ډسک اویا M3 ) د ارزش دلوړیدوموجب ګرځی هغه ته ښه راغلاست ووایواودا ځکه چي دیوي خوا ښځه دچین اقتصاد ته وده ورکوي اود بلي خواښځه پیکنګ دی ته اړبا سی چي دخپل اقتصاد په پیاوړتیا سره دمتوسطی طبقي یا دمستهلیکونو دژوند دغوښتنو مقیاس اوستاندارد لوړ کړی په عوض ددی چي دارزان قیمت شیانو پرصادرات باندی ډیره ولګوي

------------------------------------------------------------------

دا یو آیفون دی (آیفون د اپل(Apple's) په نامه سره لمړنی انترنیت دی کوم چي ډهغه په مینځ کی یو هوښیار تیلیفون ځای په ځای شوی او هغه اصلاً د ځانګړي موبایل فون ،بی سیم انترنیتی دستګاه اوداانترنیتي موزیک ډسک سره په ګډه یوه بسته بندی شوی جیبی آله یا شي دي چي په ښکتني شکل سره ترسترګو کیږي (مترجم)



------------------------------------------------------------------------

دوامدار ثابت چینایی وده اوپرمختګ اود کارګرو دژوند دستاندارد لوړید نه دغربی کارګرانو د پاره به هم ډیر ښه وي ، دوی باید د پیکنګ د اضافی خولوازي(خمیازه) دتجارت دتنګولو د پاره پراخ نوی مارکیټونه هم مینځ ته راولي داپل(Apple) نیوکی کونکي په ډیرساده اوارمانګرایانه(هیله مندیوسره ) الفاظو او هیلوسره ولیکلي اومونږه یی په ډیر بد او ویجاړنی بڼی سره د راپیدا شوي رکود یا بحران په تورغلبیل( چاڼ) کړل کوم چي شاید دهغه ځنی مراد په پایله کی د مارکس پرخبرو وی کوم چي هغه ویلی وه چي د نړی کارګران

هرچیری چی یاستی سره یو شی .

---------------------- ------------------ په درناوی